## د ټرون د ورکولو د پرېکړې خبرتیا

**موضوع:** د افغانستان بانک د معلوماتي ټکنالوژۍ لوی آمریت لپاره د PRTG سرور د درې کلن جواز د تمدید خدمتونو چمتو او تدارک کولو پروژې ټرون د افغان سکلز ګروپ نتورکینګ شرکت ته د ورکولو د پرېکړې خبرتیا.

د ملي تدارکاتو ریاست د (20580) شمېرې او 1447/12/27 نېټې د متحدالمال د دویمې مادې د (6) بند پر بنسټ ټولو ته خبر ورکول کېږي چې د افغانستان بانک د معلوماتي ټکنالوژۍ لوی آمریت لپاره د PRTG سرور د درې کلن جواز د تمدید خدمتونو چمتو او تدارک کولو پروژې ټرون د افغان سکلز ګروپ نتورکینګ شرکت ته ورکړي، چې یاد شرکت د D-63771 شمېرې جواز لرونکی او اصلي ځای یې د کابل ولایت،10 ناحیه شهر نو مسلم پلازا کې دی د ټرن ټولیزه بیه 898,000 اته سوه او اته نوي زره افغانۍ کېږي.

هر هغه حقیقي او حکمي اشخاص چې په دې اړه کومه نیوکه ولري، کولای شي خپله نیوکه د اعلان د خپرېدو له نېټې څخه تر پنځو (۵) کاري ورځو پورې، په لیکلي بڼه، د دلایلو او مستنداتو په ملتیا، د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې د کابل په ابن سینا واټ کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د ټرون د عقد کولو په معنا نه ده، او تر هغه چې پورته یاده شوې موده پای ته ونه رسېږي او ورپسې ټول قانوني مراحل بشپړ نه شي، ټرون به نه عقد کېږي.